مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

قاسم باز

۲۰۲۶/۰۷/۰۵

# د افغانستان روڼ انده افغانانو ته وړاندیز

د یوه نوی کاری متعهد میلگرا گروپ تشکل په اوسنیو شرایطو کی د وخت ضرورت دی! په افغانستان کی پخوانیو سیاسی تشکیلاتو لکه احزابو ، تنظیمونو ، قومی او سمتی ډلګیو خپل امتحان افغان ولس ته ورکړو. اوس د افغانستان هر بچی پدی ښه پوهیری چی څوک ، څوک دی ، چا څه وکړل او څوک څه کوی ، زمونږ روڼ انده افغانان یوه خبره باید په ذهن او فکر کی ولری هاغه دا چی ازموده را ازمودن خطا است زه په افغانستان کی د ملی مشارکت مخالف نه یم ولی د داسی ملی مشارکت چی په هاغه کی پخوانی وطن پلورونکی حزبونه ، تنظیمونه ، قومی دلګی لکه د نظار شورا ، دوستمی ملیشی او ایرانی فاطیمون برخه ولری سخت مخالف یم . ځکه چی دی گروپونو خپل امتحان ورکړی دوی ته ملی منافع هیڅ ارزش نلری ، که په اینده کی دوی بیا هم په سر د قدرت او اقتدار راشی دوی به بیا هم د پخوا په شان د خپلو شخصی ګټو لپاره کار وکړی. ملیگرایانو : حالات په ډیری چټکی او سرعت سره په مخ روان دی جهانی وضعه هم یو د بلی ورځی څخه د بین المللی کړکیچ په لور یا خوا روانه ده که په داسی حالاتو کی د افغانستان ملی قشر ځان منظم او سمبال نکړی د تاریخ د کاروان د بهیر څخه روسته پاتی کیږی میدان به نورو az_q_لېدرانو ته شغالی او خالی شی. په اوسنی شرایطو کي د افغانستان ملی او چیز فهمه قشر باید د یوه ملی ډیالوگ له لاری د خوشنامه افغانانو په راجمع کولو سره دا ملی ابتکار پلاس کی واخلی او خپل هیواد د اینده ناخوالو څخه وژغوری، پوهیږم چی دا کار او دا ملی ارمان یوه ورځ یا شپه تر منځه نه پوره کیږی بلکه زیات کار، فعالیت او حوصلی ته ضرورت لری. خوشبختانه افغان ملت تر اوسه ډیر عالی او منور کدرونه ، ملی او زړه سواند دانشمندان چیز فهمه باسواده قشر لری چی ددی کار د عهدی وتلای شی ، اوس ددی وخت رارسیدلی چی دا ملی او زړه سوانده افغانان په یوه تغر راجمع شی او د راتلونکو بد مرغیو مخه ونیسی. زه د ااا سره کوم شخصی ، مخالفت او مشکل نلرم ولی د دوی د بعضی کړنو سره سخت اختلاف او دا هم په زغرده وایم چی د دوی د ځنو ملت پالو موجودیت په راتلونکو وختو کی هاغه هم په دفاعی او عدلی سکتور کی ضروری بولم.

گرانو ملی فکره افغانانو : د افغانستان په تاریخ کی پدی هیواد ډیر بد حالات راغلی او تیر شوی خو ریښتیا خبره داده چی دا ملک او ملت اصیل بچیان لری داسی بچیان چی هغوی به یوه ورځ د خپل ملک دا ماته کشتی د امن ساهل خوا ته رسوی.

دلته غواړم یوه خبره واضح کړم هاغه دا چه ، په ملی نظامونو کی کار اهل کار ته سپارل کیږی. همدارنګه په ملی نظامونو کی زیاتو ته زیاته او کمو ته کمه برخه ورکول کیږی ، نه دا چی هاغه چا چی ډیر چور، تالان او چپاول کړی باید زیاته برخه ورکړل شی په افغانستان کښی تول قومونه محترم او د قدر وړ شخصیتونه لری. زما په نظر او اند.

که د تاجک د قوم په نمایندگی د احمد مسعود یا امرالله صالح پر ځای ، استاد فیض الله جلال، استاد حقانی، یا بل خوشنام شخصیت راشی دا به بد کار وی.

همدارنګه ، که د محقق ، خلیلی یا سرور دانش پر ځای جناب داکتر بشر دوست یا پروفیسور استاد قاسمی راشی دا به ښه انتخاب نه وی.

که د ازبک د قوم د عبدالرشید دوستم په ځای پروفیسور استاد داکتر عبدالستار سیرت راشی دا به بد انتخاب وی.
که د سادات د قوم په نماینده گی جناب استاد داکتر سید عبدالله کاظم راشی ایا دا به بهترین انتخاب نه وی .! او که د پشتون د قوم په نمایندگی پروفیسور انورالحق احدی ، پروفیسور علی احمد جلالی ، داکتر فاروق اعظم او کاندید اکادمیسین اعظم سیستانی راشی دا به بده وی ، ابداً نه.
تر څو به مونږ پر بدو چټلو قاتلو چوراهیدو او بوجیدینو اشخاصو تینګار کوم. سلام.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ